هیواد

ورځپاڼه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا

د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز

سه شنبه د محرم الحرام ۱۹ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنگاښ ۲۴ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۱۵ مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي گڼه ۹۱ یمه، پرله پسې گڼه ۷۵۴مه، اتمه دوره

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت: بهرنی یرغل یوازې نظامي نه، کلتوري هم و

د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانگړي حکم پر اساس د ارشاد، حج او اوقافو، اطلاعاتو او فرهنگ، پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو ته لارښوونه شوې چې په هېواد کې له کتابتونونو، ښوونیزو مرکزونو او عامه ځایونو څخه هغه بېلابېل کتابونه چې د ټولنې د انحراف او بې لارۍ لپاره په تېرو وختونو کې لیکل شوي او له مختلفو لارو څخه وېشل شوي وو، راټول کړي ترڅو ورته د مدارسو استاذان او علماء کرام داسې یو لارښود جوړ کړي چې هغوی د شریعت د اصولو په رڼا کې د راټولو شویو کتابونو په رد کې عامه پوهاوي وکړي. په همدې مناسبت تېره ورځ د ارشاد، حج او اوقافو وزارت کې غونډه جوړه شوه او پکې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت مرستیال مولوي حیات الله مهاجر فراهي، د پوهنې وزارت مرستیال مولوي عبدالخالق صادق او د لوړو زدکړو وزارت د نصاب کمیټې مسئول مفتي عبدالرؤف فراهي گډون کړی و. د ارشاد، حج او اوقافو وزیر سرمحقق دکتور نورمحمد ثاقب ویلي، چې په تېرو کلونو کې زموږ هېواد نه یوازې له نظامي یرغل سره مخامخ شوی ؤ، بلکې له کلتوري بریدونو هم ژور ټپي شوی دی، دېرو هېوادونو دلته د فرهنگي فعالیتونو لپاره دفترونه پرانیستي وو، ترڅو ... ۲مخ

د اقتصاد وزارت: غیر دولتي بنسټونه دې له راستنېدونکو کډوالو سره مرستې زیاتې کړي

د اقتصاد وزیر قاري دین محمد حنیف او بېرته راستنېدونکو کډوالو ته د مرستو د جلب او جذب کمېټې رئیس د غیر دولتي کورنیو او بهرنیو بنسټونو له مسئولینو سره ناسته کې د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې په موخه د مرستو پر زیاتېدو ټینگار کړی. قاري دین محمد حنیف له غیردولتي بنسټونو غوښتي، چې د کډوالو بېړنو ستونزو ته د رسېدنې تر څنگ د مېشتېدنې ښارگوټو کې د سرپناه ... ۲مخ

وزیر تحصیلات عالی با سفیر جاپان مقیم کابل دیدار کرد

شیخ نداء محمد ندیم، وزیر تحصیلات عالی در دیدار با تاکویوشی کورومایا، سفیر جاپان مقیم کابل از کمک‌های این کشور در بخش‌های تداوی معتادان مواد مخدر، رسیدگی به نیازمندی‌های مهاجران و سایر عرصه‌ها قدردانی کرده است. وزارت تحصیلات عالی می‌گوید که در این دیدار همچنان پیرامون سیاست‌های دوگانه جامعه جهانی در قبال نظام و رهبری امارت اسلامی گفتگو شده است. به گفته این وزارت، آقای ندیم بیان کرده



که از یکسو جامعه جهانی شعار همکاری و حمایت از افغانستان را سر می‌دهد و از سوی دیگر رهبران امارت اسلامی را تهدید به محاکمه می‌کند. همچنان وی ضمن ابراز سپاس از کمک‌های جامعه جهانی، خاطر نشان ساخته که پابندی به دین، شریعت اسلامی و خواست‌های مردم در اولویت نظام قرار دارد.

وزیر تحصیلات عالی با توجه به پیشرفت‌های اخیر تحصیلات عالی افزود: این وزارت به آموزش‌های دینی و عصری با کیفیت و تحقیقات معیاری که مطابق ارزش‌های دینی و ملی و پاسخگوی نیازمندی‌های جامعه افغانی باشد، متعهد است.

از سوی هم، سفیر جاپان ضمن ارایه معلومات در مورد کمک‌ها و همکاری‌های کشورش در افغانستان اطمینان داده است که این کمک‌ها ادامه خواهند یافت. در عین‌حال، وی از پیشرفت‌های اخیر امارت اسلامی افغانستان در بخش‌های مختلف ابراز خرسندی کرده است. آقای کورومایا در ادامه صحبت‌های خود از نحوه مدیریت مشکلات مهاجران بازگشته از پاکستان و ایران نیز تقدیر کرده است.

د کتاب ارزونې کمېسیون غونډه وکړه

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د خپرونو چارو د معین مهاجر

فراهي په مشرۍ او د دغه کمېسیون د غړیو په شتون کې پرون د کتاب ارزونې کمېسیون نوبتي ناسته ترسره شوه.

د ناستې په پیل کې د کمېسیون د تېرې ناستې راپور وړاندې شو او د کمېسیون لاسته راوړنې او فعالیتونه وارزول شول. په دې ناسته کې د بېلابېلو کتابونو په اړه لازمې پرېکړې وشوې او هغو کتابونو ته چې له اسلامي او افغاني ارزښتونو ... ۲مخ

د قزاقستان او ازبیکستان پانگوالو په افغانستان کې د برښنا د تولید په برخه کې پانگونې ته لېوالتیا ښودلې

د افغانستان د برښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس ډاکټر عبدالباري عمر د قزاقستان او ازبیکستان هېواد پانگوالو سره په لیدنه کې د برښنا انرژۍ د تولید برخه کې د پانگونې په اړه خبرې کړې دي. د ناستې په پیل کې ښاغلي ډاکټر عمر یادو پانگوالو ته ښه راغلاست ویلی او په افغانستان کې یې د برښنا انرژۍ د شته فرصتونو په اړه معلومات ورکړي دي. د یادو هېوادونو پانگوالو افغانستان کې د برښنا انرژۍ د تولید او د تخنیکي انجنیرانو د روزنې برخو کې خپلې طرحې او وړاندیزونه له ډاکټر عمر سره شریک کړي او په دې برخه کې یې پانگونې ته لېوالتیا ښودلې ده. ډاکټر عبدالباري عمر یادو پانگوالو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړی او ویلي یې دي، چې د افغانستان برښنا شرکت د پانگونې لپاره ځانگړې تگلاره لري او د همدې پالیسۍ پر بنسټ له نورو ملي او نړیوالو پانگوالو سره هم گډې پانگونې روانې دي. د یادونې وړ ده، چې د دغو هېوادونو پانگوال غواړي په افغانستان کې له ټیټې کچې بیا تر لوړې کچې برښنا تولید کړي او افغان انجنیران هم په تخنیکي ډول وروزي.

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت له لوري د «کابل کتاب» تر سرلیک لاندې جشنواره جوړه شوه

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د هنر او فرهنگ معینیت اړوند د عامه کتابتونونو ریاست له لوري، د ۱۴۰۴ لمریز کال د "کابل کتاب" تر عنوان لاندې جشنواره پرون په کابل کې ترسره شوه. د دغې جشنوارې د ترسره کولو موخه، د کتاب د ارزښت په اړه پوهاوي ورکول او په هېواد کې د مطالعې فرهنگ ترویج دی. په دې جشنواره کې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت چارواکو او مسئولینو، د نړیوالې ټولنې استازو، په کابل کې د یو شمېر هېوادونو د سفارتونو ډیپلوماتانو، د پوهنتون استادانو او د هېواد گڼ شمېر لیکوالو او فرهنگیانو گډون کړی و د یادې جشنوارې په ... ۲مخ

د بغلان د لبنیاتو فابریکې بیا فعالیت پیل کړ

د بغلان ولایت په صنعتي بغلان سیمه کې د لبنیاتو فابریکه چې دوه کاله وړاندې د اقتصادي او فني ستونزو له امله غیرفعاله شوې وه، د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت په هڅو بېرته فعاله شوه.

د یاد ولایت د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ رئیس مولوي عبدالکریم حذیفه باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د شمالي او شمال ختیځو ولایتونو په کچه د لبنیاتو یوازنۍ ستره فابریکه همدا ده چې دوی فعاله کړې او په ښه کیفیت سره لبنیات تولیدوي او د پلور لپاره یې بازار ته وړاندې کوي.

د بغلان د کرنې ریاست د حیواني روغتیا او خدمتونو آمر ډاکټر تاج محمد احمدزي ویلي چې دغه فابریکه په ورځ کې له ۱۲۰۰ څخه تر ۱۴۰۰ لیټرو شېدو د پروسس وړتیا لري او په ورځنې ډول راټولېدونکې شېدې په پنیر، مستو، چکه او کوچو بدلوي او بیا یې د ښاریانو د غوښتنو په اساس بازار ته وړاندې کوي.

د یادونې وړ ده، چې په تېرو وختونو کې د یادې فابریکې پنیر د بیې د لوړوالي له امله په کورنیو بازارونو کې ... ۲مخ

غور کې زرگونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرېږي

د غور د مرکز په گډون په څلورو ولسوالیو کې د اوبو رسولو د ۶ شبکو په جوړېدو سره ۳ زره کورنیو ته د څښاک اوبه برابرېږي. د یاد ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي مسئول ذبیح الله غوثي زاده باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې د اوبو رسولو دغه شبکې د یاد ولایت د مرکز په گډون په تیوره، دولت یار، چهارسده او فیروز کوه ولسوالیو کې د همکارو موسسو په مالي ملاتړ د ۲۹ میلیونو افغانیو په لگښت جوړېږي.

د نوموړي په وینا، د یادو شبکو په جوړېدو سره به ... ۲مخ

هلمند کې په لویه کچه نشه‌یي توکي نیول شوي

د هلمند امنیې قوماندانۍ د نشه‌یي توکو پر ضد د مبارزې مدیریت د عملیاتو پرمهال د گرمسېر او خانشین ولسوالیو په اړوندو سیمو کې په لویه کچه نشه‌یي توکي نیولي دي. د امنیه قوماندانۍ ویاند، ملاعزت‌الله حقاني، رسنیو ته ویلي، چې د عملیاتو پرمهال د گرمسیر ولسوالۍ په صفار

سیمه کې ۵۰۰۰ کیلوگرامه نوشادر او په خانشین ولسوالۍ کې ۱۲۵ کیلوگرامه ښینښه کشف او ضبط کړې ده. نیول شوي توکي په څلورو جلا موټرو کې ځای پر ځای شوي وو او قاچاقوړونکو غوښتل، چې دا توکي بهر ته ولېږدوي. د نوموړي په وینا په یادو عملیاتو کې څلور کسان د دې پېښې په تړاو نیول شوي چې دامهال تر قانوني څېړنو لاندې دي. حقاني زیاتوي چې دا عملیات د استخباراتي معلوماتو پربنسټ، پلان او پلي شوي او د نورو ورته پېښو د مخنیوي لپاره د امنیتي ارگانونو هڅې روانې دي. هلمند له ډېره وخته د نشه‌یي توکو د تولید، قاچاق او پراخ بازار له امله د نړیوالو او سیمه‌ییزو امنیتي نهادونو د اندېښنې وړ سیمه ... ۲مخ

بادغیس کې یو کانال بیا رغول کېږي

د بادغیس د مرکز قلعه نو په باغک کلي کې د یوه کانال د بیا رغولو چارې د ۹ میلیونو افغانیو په لگښت پیل شوې دي. دغه کانال چې ۸۴۰ متره اوږدوالی لري د سره صلیب نړیوالې کمېټې په مالي ملاتړ د ۹ میلیونو افغانیو په لگښت بیارغول کېږي. د یاد کانال په بیارغولو سره د سیمې ۱۲۰ کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې، چې په بشپړېدو سره به یې شاوخوا ۵۰۰ کورنۍ د سېلابونو له خطر څخه وژغورل شي. د یادونې وړ ده، چې یاده پروژه د اوبو د ضایع کېدو د مخنیوي او د کرنیزو حاصلاتو په زیاتوالي کې مهم رول لري. باختر

له ۲۱۷ عمري قول اردو څخه ۵۵۰ تنه فارغ او خدمت ته چمتو شول

د ملي دفاع وزارت د ۲۱۷ عمري قول اردو د حضرت ابوبکر صدیق (رض) له ښوونیز مرکز څخه ۵۵۰ تنه منسوبین له درې میاشتنیو عقیدوي، فکري او مسلکي زده‌کړو وروسته فارغ شول. یاد وزارت وایي: په دې مراسمو کې د دې وزارت د ښوونې او روزنې رئیس شیخ داد محمد محمدي، د عمري قول اردو مرستیال ملا عبدالکریم نافذ، درستیزوال قاري محمد شفیق وثیق، علماء کرامو ... ۲مخ

بادغیس کې ۱۵۰ ځوانان له حرفوي زده‌کړو فارغ شول

دبادغیس محلي مسئولین وایي، چې دغه ولایت کې ۱۵۰ ځوانان له بېلابېلو حرفوي او مسلکي زده‌کړو فارغ شوي دي. دغو ځوانانو ته د خیاطي، موټرسایکل جوړولو او د موبایل د ترمیم برخه کې حرفوي او مسلکي زده‌کړې ورکړ شوي دي. د بادغیس د والي ویاند رحیم‌الدین رحیمي وایي: «د تېکا موسسې په مرسته ۱۵۰ تنو ځوانانو شپږ میاشتنۍ حرفوي او مسلکي زده‌کړې په بریالیتوب پای ته ورسولې او له دې وروسته کولای شي، خپله ... ۲مخ

حکومت پانګوالو ته لا زیاتې اسانتیاوې برابروي

افغانستان، چې له اوږدو کلونو را په دې خوا یې اقتصاد د وارداتو او بهرنیو مرستو له تګلارو سره تړلی پاتې شوی، اوس د یوه نوي اقتصادي واقعیت دغږېدو په درشل کې دی. په کابل کې د صادراتو ملي ورځې د لمانځنې غونډې د هېواد د صادراتي سیاستونو د یو مهم پړاو څرګندونه وکړه. د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوري په دغو مراسمو کې د دولتي مقاماتو، دیپلوماتانو، خصوصي سکتور، پانګوالو او نړیوالو شریکانو حضور دا پیغام درلود، چې صادرات نور یوازې یوه اقتصادي اړتیا نه، بلکې د ملي پرمختګ یوه تګلاره ده. دا هڅې څرګندوي، چې افغانستان غواړي له وارداتي اقتصاد څخه د صادراتو پر محور ولاړ، باثباته او متکي اقتصاد ته واوړي.

په هرحال د صادراتو ملي ورځ د دې لپاره لمانځل کېږي، چې د هېواد صادروونکي وهڅول شي، د تولید کیفیت ته لا زیاته پاملرنه وشي او د صادراتو فرهنګ په ملي کچه رامنځته شي. دا تګلاره، نه یوازې اقتصادي اړخ لري، بلکې د افغانستان د سیاسي، ټولنیز او نړیوال باور بېرته راژوندي کولو ته هم لاره هواروي.

په دې وروستیو کلونو کې د افغان صادراتو د پام وړ زیاتوالی، په ځانګړي ډول د چین، روسیې، هند او منځنۍ آسیا هېوادونو ته، د دې خبرې ثبوت دی، چې که مدیریت، شفافیت او پالیسۍ همغږې وي، نو افغانستان کولی شي له خپلو طبیعي زېرمو، کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو څخه د عوایدو یوه باثباته سرچینه جوړه کړي.

دولت ژمن دی چې پانګوالو ته به اسانتیاوې برابرې شي، د اداري فساد پر ضد به مبارزه دوام ولري او د صادراتو بهیر ته به عصري مېتودونه معرفي شي. د خصوصي سکتور همکاري او د سوداګریزو اتحادیو ګډون، دا هڅې لا پیاوړې کوي. له بلې خوا نړیوال بنسټونه هم هڅه کوي د افغان سوداګرو له لارې دا پیغام نړۍ ته ورسوي، چې افغانستان چمتو دی یو باثباته شریک هېواد شي.

نړیوال بازار ته د لاسرسي فرصت، د نوې ټکنالوژۍ کارونه، د کیفیت کنټرول او له نړیوالو معیارونو سره برابر تولیدات هغه برخې دي، چې باید پرې تمرکز وشي. که څه هم د نړورځې وضعیت هیلې بښوونکې ښکاري، خو د دې هر څه د دوامداره کولو لپاره یو منظم ملي پلان، نړیوالو ته د اعتبار ورکولو تګلاره او د داخلي ظرفیتونو پیاوړتیا ضروري ده. د صادراتو ملي ورځ باید دغونډو او مراسمو تر پولو محدوده پاتې نه شي. دا ورځ باید د افغانستان د اقتصاد او پانګونې د ودې، د تولیدي ظرفیتونو د پراختیا او نړیوال بازار ته د دروازې پرانیستلو یوه دوامداره لاره شي. د دولت، خصوصي سکتور او نړیوالو شریکانو ګډې هڅې هغه بنسټ دی چې افغانستان پرې د اقتصادي خپلواکۍ، د کاري فرصتونو د زیاتوالي او د نړیوالو بازارونو د برخوالو هېوادونو په کتار کې درېدلای شي. که دا لاره په عزم، شفافیت او نوښت تعقیب شي، نو راتلونکې به د افغانستان لپاره نه یوازې له اقتصادي پلوه روښانه وي، بلکې د سیمې په کچه به د یوه مؤثر او متشبث هېواد په توګه وځلېږي. صادرات باید یوازې یوه اقتصادي کړنلاره نه، بلکې یوه ملي فلسفه وګرځي، هغه فلسفه چې هېواد له فقر، بېکارۍ او وارداتي تړلتیا څخه د باثباته پرمختګ، کاري فرصتونو او نړیوالو اړیکو پر لور رهبري کړي.

بهرنی یرغل یوازې ...

زموږ اسلامي او اصیل افغاني کلتور او ارزښتونه زیانمن کړي، موږ باید ټول هڅه وکړو چې اسلامي کلتور ژوندی وساتو او مجاهد ولس ته یې په بشپړه توګه وروپېژنو. ښاغلي ثاقب زیاته کړه: په تېرو وختونو کې داسې تألیفات شوي دي، چې زموږ د ټولنې له اسلامي او تاریخي ارزښتونو سره په ټکر کې دي او ځوان نسل له اصلي موخو څخه لرې کوي، اوس وخت رارسېدلی چې ټولې امارتي اداري، د هېواد علماء کرام او د ټولنې علمي او فکري کادرونه په ګډه کار وکړي، ترڅو دغه خلا ډکه او ځوانانو ته داسې سالم، اسلامي او تعلیمي مواد برابر کړو چې له ملي ارزښتونو سره سمون ولري. دی وایي، چې نوموړی کار د امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړي حکم پر اساس ترسره

کېږي، هغه وزارتونه چې کوم کتابونه یې را ټول کړي او یا یې راټولوي د هغو ارزونه به دعلماء کرامو دیو ګډ ټیم له لوري ترسره کېږي. ده زیاته کړه، چې د څلورو وزارتونو استازو څخه به یوه ګډه کمېټه جوړېږي،ترڅو یو جامع لارښود جوړ کړي، چې د ټولنې اړین ضرورتونه په نظر کې ونیسي او په هېواد کې به د سالمو او اصلاح شویو کتابونو شتون یقیني کوي. دغونډې په ترڅ کې د پوهنې وزارت مرستیال مولوي عبدالخالق صادق، د اطلاعاتو او فر هنګ وزارت مرستیال مولوي حیات الله مهاجر فراهي او د لوړو زده کړو وزارت د نصاب کمېټې مسئول مفتي عبدالرؤف فراهي هم خبرې وکړې او په دغې برخه کې یې د خپلو وزارتونو د ترسره کړیو اجراءاتو راپور وړاندې کړ او په راتلونکې کې یې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ. سمیع الله مومند

غیر دولتي بنسټونه دې ...

د اوبو رسولو سیستمونو، د څښاک اوبو د څاګانو کیندلو، د ښوونځیو، مدرسو، جوماتونو او روغتیایي کلینیکونو جوړولو کې فعاله ونډه واخلي. بله‌خوا د غیردولتي بنسټونو مسئولینو بېرته راستنېدونکو کډوالو سره د مرستو د دوام ډاډ ورکړی. دا په داسې حال کې ده، چې دې وروستیو کې له بهرنیو هېوادونو د افغانانو د بېرته راستنېدنې پروسه چټکه شوې، چې د اسلامي امارت چارواکي هڅه کوي مرستندویو موسسو سره په ګډه د هغوی د بېړنیو اړتیاوو پر پوره کولو سربېره د بې سرپرستو کورنیو لپاره دایمي سرپناوې هم جوړې کړي.

د کتاب ارزوني کمېسیون ...

سره سم لیکل شوي دي؛ د چاپ اجازه ورکړل شوه.

د کمېسیون په ناسته کې، د ناشرانو لپاره د ځای ټاکلو، د کتاب د چاپ په برخه کې له خپرندویو ادارو او مطبعو سره د همغږۍ او د کتاب د چاپ مالیې د معافیت په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د فرمان په اړه هم خبرې وشوې . د ناستې په پای کې یو شمېر کتابونه چې کمېسیون ته د ارزونې په موخه راجع شوي وو؛ د کمېسیون پر غړو ووېشل شول، څو په اړه یې راتلونکې ناستې ته راپور وړاندې کړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ ...

پرانیستغونډه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ معین مولوي عتیق الله عزیزي، د کتاب پر اهمیت خبرې وکړې او ویې ویل: «کتاب د ژوند اساسي برخه او غوره ملګری دی او د تمدنونو ترمنځ د پله حیثیت لري او هغه ولس چې کتاب نه لولي؛ باید چې ټول تاریخ تجربه کړي.» هغه زیاته کړه: «د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپلو فرهنګي تګلارو او علمي سیاستونو په چوکاټ کې، کتاب ته نه یوازې د ارزښت له مخې ګوري؛ بلکې د فرهنګي ودې، فکري جوړښت او غوره راتلونکې د تضمین حیثیت هم ورکوي. دغه وزارت هڅه کوي چې د کتاب تولید، تدوین، چاپ، خپرولو، ژباړې، تهذیب او ساتنې ته یوه منظمه، پایداره او عصري طرحه ولري.» د هنر او فرهنګ د معین په وینا: افغانستان له شاوخوا پنځو لسیزو جګړو، ناخوالو او د بهرنیو د ډول ډول لاسوهنو له تېرولو وروسته، اوسمهال د امن او سکون سا اخلي، نو په داسې یوه فضا کې د کتاب جشنوارې جوړېدل، په حقیقت کې د افغان عظیم ملت اقتدار او ارزښتونو ته درناوی دی.

مولوي عزیزي وویل چې نړیوال د سیاست له نزاکتونو او عینکو پرته دغې لړۍ ته باید دوام ورکړي او د افغانانو د فرهنګي، تاریخي او علمي بنسټونو رغولو ته راوړاندې شي.

دغه راز د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معین مهاجر فراهي، په خپلو خبرو کې وویل: «کتاب او مطالعه کولای شي چې ټولنې ته پراختیا ورکړي او ملتونه د عروج لوړو پوړیو ته ورسوي. په همدې اساس اسلامي امارت په ځانګړې توګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، په هېواد کې د مطالعې فرهنګ د ترویج لپاره ډېرې هڅې کړې دي.» ده د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د کتاب یوه ملاتړې اداره وبلله او زیاته یې کړه: «د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله له خوا پر هغو کتابونو چې د هېواد په دننه کې چاپېږي؛ مالیه معاف شوې او هغه کتابونه چې له بهره واردېږي؛ مالیه یې ۵۰ سلنه راټیټه شوې ده؛ نو له دې څخه معلومېږي چې اسلامي امارت د کتابونو د چاپ او د ناشرانو بشپړ ملاتړ کوي او د هغوی د ستونزو د حل لپاره طرحې لري.»

فراهي د هېواد له کورنیو، علمي شخصیتونو او لیکوالو څخه وغوښتل چې مطالعې ته د ځوانانو په هڅولو کې همکاري وکړي او داسې کتابونه دې ولیکي چې ځوان نسل ورته اړتیا ولري.

ورته مهال، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د سرمنشي ځانګړې استازې او د «یوناما» مشرې روزا اوتنبایوا، د کابل جشنوارې د ترسره کولو پر ارزښت خبرې وکړې او ویې ویل: «نن یوه ځانګړې ورځ ده؛ دا هغه ورځ نه ده چې موږ د منرالونو او یا کاني موادو په اړه خبرې وکړو؛ بلکې دا هغه ورځ ده چې د کتاب فستیوال لرو. د کتاب جشنواره له ملي ارزښتونو څخه ده او په حقیقت کې ملي هویت دی او پر کتاب پانګونه، یوه دایمي پانګونه ده.» دې په ټولنه کې د مطالعې فرهنګ پر ترویج ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه چې د ملګرو ملتونو سازمان ټول ساحوي دفترونه په دې برخه کې له افغانستان سره هر ډول همکارۍ ته چمتو دي.

د عامه کتابتونونو رئیس حافظ نعمت الله منتظر، د کابل ښاروالۍ د فرهنګي چارو رئیس قاري ولي ګل جواد او نورو ویناوالو هم د کتاب او مطالعې پر ارزښت خبرې وکړې او له نړیوالو بنسټونو څخه یې وغوښتل چې له سیاسي چلند پرته او د نړۍ د نورو هېوادونو په شان په فرهنګي او تعلیمي برخو کې هم له افغانستان سره مرسته او همکاري وکړي. د غونډې په بهیر کې په افغانستان کې د کتابتونونو د وضعیت او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د عامه کتابتونونو ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه پرېزنټېشنونه ګډونوالو ته وړاندې شول. په پای کې د غونډې ګډونوالو د کتابونو، هنري آثارو او افغاني لاسي صنایعو نندارتون له بېلابېلو برخو څخه لیدنه وکړه . هېره دې نه وي چې د کابل کتاب جشنواره به سبا هم دوام وکړي. باختر

د بغلان د لبنیاتو ...

د پلور لپاره نه وړاندې کېده، بلکې ګاونډیو هېوادونو تاجکستان، ازبېکستان او ترکمنستان ته لېږدول کېده، خو اوس تمه داده چې ښاریان به له کورنیو تولیداتو څخه د ملاتړ په موخه د دې فابریکې تولیدي محصولات وکاروي.

غور کې زرګونو کورنیو ...

د سیمو ۳ زره کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې او ورسره به لسګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شي. د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په بیاواکمنېدو سره په دغه ولایت کې د اوبو رسولو لسګونه شبکې جوړې او پر مټ یې زرګونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.

هلمند کې په لویه کچه ...

ګټل کېدله، خو واک ته داسلامي امارت له بیا رسېدو وروسته، دغلته د نشه‌یي توکو قاچاق مهار او د کوکنارو کرکیله صفر ته ټیټه شوې ده. دغه ولایت کې د نشه‌یي توکو پر ضد د مبارزې مسئولین وایي، چې دوی په دوامداره توګه هلمند کې د قاچاقوړونکو د پېژندنې او د هغوی د شبکو د شنډولو لپاره هڅې کوي.

بادغیس کې ۱۵۰ ځوانان ...

کار وکړي او د کورنۍ اقتصاد کې ونډه واخلي.» د نوموړي په وینا د یاد پروګرام موخه اقتصادي ځان‌بسیاینه او ځوانانو ته د کارموندنې زمینې برابرول دي. دغه پروګرام د بادغیس د کار او ټولنیزو چارو ریاست له لوري پرمخ وړل کېږي. یو شمېر هغه ځوانان چې له حرفوي زده‌کړو فارغ شوي وایي چې دغه پروګرام ورته ګټور دی او په وینا یې هغه مهارتونه یې چې زده‌کړي، د کار بازار کې به ورته ګټور تمام شي.

له ایران څخه ...

له شتمنیو پرته له ایران څخه را ایستل کېږي. دا زموږ د هر یوه دنده ده چې له دوی سره همکاري وکړو، تر څو وکولی شو د دوی ستونزې تر یوه حده حل کړو.)) د بادغیس اوسېدونکی محمد حنیف وایي: ((موږ شاوخوا ۵۰ تر ۶۰ موټره د بادغیس صرافان، ځوانان او سوداګر راغلي یو. دلته د کډوالو لېږدولو لپاره په تمه یو، ترڅو بادغیس ته یې ولېږدوو.)) له بلې خوا راستانه شوي او له سختو شرایطو راوتلي افغانان وایي: د خلکو له خوا ورسره شوې مرستو یې نه یوازې فزیکي ستړیا راکمه کړې، بلکې په زړونو کې یې هغه ملي یووالی بیا را ژوندی کړی چې کلونه یې له سترګو پناه شوی و. مسئولین له راستنېدونکو سره د ولس همکاري ګټوره بولي، خو یاده برخه کې پر لا ډېرو مرستو ټینګار کوي. د دوی په خبره په دې همکارۍ سره د راستنېدونکو افغانانو ستونزې ډېرې کمې شوې دي. د اسلامي امارت مرستیال ویاند حمدالله فطرت وایي: « کومې مرستې چې د اسلامي امارت د کمېسیون له خوا کېږي، د دې ترڅنګ د خلکو او خیریه بنسټونو مرستې هم د کمېټو له خوا تنظیمېږي او په واحده لاره باندې دا مرستې وېشل کېږي. همداراز د ټرانسپورټ په برخه کې چې هېوادوال مرسته کوي، دا ډېره ګټه لري او اړتیا ده چې خلک نور هم د همدردۍ او همدلۍ له مخې راشي او خپله ونډه ادا کړي .» پر حکومت سربېره ولسي خلکو هم وروسته له هغې له ایرانه راستنېدونکو افغانانو سره د مرستې لپاره ګامونه پورته کړل چې له تېرو څو اوونیو راهیسې د کډوالۍ برخه کې نړیوالو مرستندویو ادارو په یاده برخه کې د خپلو امکاناتو د کمېدو خبر ورکړ.

حماس ۲۰۰ زره تازه ...

کسان ورګډ شوي دي.)) د ایران د بهرنیو چارو وزیر همداراز زیاته کړې: اسرائیلو ګمان کاوه، چې د څو هسته‌یي پوهانو په ترور سره به د ایران ۴۰ کلن سوله‌ییز هسته‌یي پروګرام ته د پای ټکی کېږدي؛ خو په خبره‌یې، ایران له هغوی نه هم پیاوړي زده‌کوونکي روزلي، چې ډېر ژر به نتنیاهو ته خپل توان ور وښیي. یادې څرګندونې په داسې مهال شوې چې د غزې په جګړه کې د اسرائیلي پوځیانو مرګژوبله ورځ تر بلې زیاتېږي او د حماس جهادي غورځنګ لا هم د مقاومت پر لیکو ټینګ ولاړ دی.

د پکتیکا - زرمت سړک ...

په سور سره د سړک جوړولو چارې پیل شوې دي. د نوموړي په وینا د دغه سړک د جوړولو چارې به د دوو کلونو په موده کې بشپړې شي، چې پر مټ به یې د سیمې د اوسېدونکو لپاره د تګ راتګ ګڼې اسانتیاوې برابرې شي.

ورته مهال د یاد ولایت اوسېدونکي وایي چې د دغه سړک په جوړېدو سره به ورته ټرانسپورتي اسانتیاوې رامنځته شي.

کابل ژوبڼ کې ...

چې له جلال اباد څخه راغلی دی؛ دی له هېواد ورځپاڼې سره په خبرو کې په ژوبڼ کې د ورځپاڼو نصبول ګټور ګڼي او وایي چې په دې سره د مطالعې فرهنګ قوي کېدلی شي. دی زیاتوي: زموږ لپاره مهمه ده، چې له دې اړین معلومات ترلاسه کړو او له حالاتو خبر شو. غوث الدین ایوبي ژوبڼ کې د ورځپاڼو نصبولو ته خوښ دی او وایي چې دلته خلک نه یوازې سیاحت کولی شي، بلکې له نړۍ هم خبرېدلی شي، چې نن څه شوي او څه کېږي. دلته سیلانیان د ژوبڼ له مسئولینو خوښ دي او له کابل ښاروالۍ غوښتنه کوي، تر څو دغې برخې ته پاملرنه زیاته کړي او دغسې نورو سیاحتي ځایونو کې هم ورځپاڼې نصب کړي، تر څو نه یوازې خلک د افغانستان او نړۍ له حالاتو خبر شي، بلکې د لوستلو فرهنګ هم ورسره غښتلی کېدای شي. ورځپاڼې چې له نورو رسنیو سره په تفاوت د مطالعې فرهنګ په قوي کولو کې پوره برخمنې دي، اوس‌مهال دغه ورځپاڼې د هېواد په رسمي ژبو پښتو او دري سربېره په انګلیسي ژبه هم خپرونې کوي، چې د هېواد په ټولو ولایتونو کې لوستونکي ورته لاسرسی لري.

تاج محمد بهار

سمنګانو کې بې روزګارو ...

د خلم ولسوالۍ یو تن اوسېدونکی وایي: ((زه تمه لرم چې له دې لا زیاته ابادي وشي څو ښار مو پرمختګ وکړي، هره پروژه چې تطبیقېږي موږ خوښ او هرکلی یې کوو.)) د خلم ولسوالۍ اوسېدونکی وایي: ((اوس مهال موږ د ښاروالۍ له کړنو خوښ یو. سړکونه مو جوړ شوي، کومې پروژې چې ښاروالۍ تر لاس لاندې لرلې پلې شوې.))خلم د سمنګانو هغه لرغونې او باستاني ولسوالۍ ده چې له جهان نما بڼ، تاشقرغان تنګي او له ورته نورو تفریحي سیمو یې هر کال زرګونه کورني او بهرني سیلانیان لیدنه کوي.

نورستان کې ...

قیمتي او نیمه‌قیمتي ډبرې د میلیونونو افغانیو په ارزښت پلورل شوې وي. دا په داسې حال کې ده چې په وروستیو کلونو کې د هېواد په کانونو کې پانګونې ته د بهرنیو او کورنیو سوداګرو لېوالتیا زیاته شوې ده. بله خوا اسلامي امارت کورنیو او بهرنیو سوداګرو ته د افغانستان د کانونو په برخه کې د پانګونې لپاره د اسانتیاوو د رامنځته کېدو ډاډ څرګند کړی دی.

د کډوالو د ستنولو لپاره ...

افغانستان ته ستانه کړي او یا یې هم د بند موده زیاته کړي. د جرمني د کورنیو چارو وزیر ویلي:«یوه له هغو ستونزو چې ماته معلومه ده او باید حل شي، دا ده چې څنګه کولای شو په مناسبه توګه کډوال وباسو؟ تر هغو چې موږ کومه هوکړه ونه کړو، څوک افغانستان ته نشو ستنولی او زه نشم کولای د ایستلو په موخه د نیول شویو د بند موده زیاته کړم.» دغې جرمني رسنۍ د اسلامي امارت د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له ویاند عبدالمطلب حقاني سره هم په دې اړه خبرې کړې او نوموړي ویلي: له جرمني باید د افغان کډوالو د ستنولو بهیر په داوطلبانه توګه ترسره شي او په خبره یې له ستنولو وروسته یې هم باید د جرمني حکومت د ژوند جوړولو په برخه کې ملاتړ وکړي. عبدالمطلب حقاني ویلي: «موږ له جرمني څخه خپل وګړي منو، خو باید جبري نه بلکې په داوطلبانه ډول راستانه کړای شي. سربېره پر دې، د جرمني حکومت باید افغانستان کې د ژوند د بیا پیل لپاره د هغوی مالي ملاتړ وکړي، څو د تل لپاره پاتې شي» د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ویاند د دغو مجرمو افغان کډوالو د مجازاتو په تړاو ویلیک د اسنادو له ترلاسه کولو وروسته به د اسلامي شریعت په چوکاټ کې په دې اړه پرېکړه وشي. جرمني له دې وړاندې هم ځینې مجرم افغان کډوال له دغه هېواده افغانستان ته راستانه کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې سلګونه زره افغان کډوال له ایران او پاکستانه په جبري توګه را ستانه شوي دي او دغه لړۍ لا هم دوام لري.

په ۲۱ ولایتونو کې ...

لوېدیځو او مرکزي ولایتونو کې د تېزو بادونو، خاورو او دوړو د پېښېدو خبرداری ورکړ شوی دی چې سرعت به یې په یو ساعت کې له ۵۰ تر ۷۵ کیلو مترو پورې وي. د هواپېژندنې ادارې دا خبرداری داسې مهال ورکړی چې له تېرو دریو اوونیو راهیسې د ننګرهار په ګډون په ختیځو ولایتونو کې د سختو سېلابونو له امله خلکو ته درانه مالي زیانونه اوښتي دي.

له ۲۱۷ عمري قول اردو ...

مسئولینو او ګڼو منسوبینو ګډون کړی و. د مراسمو په ترڅ کې فارغو شویو مجاهدینو د اسلامي نظام د پیاوړتیا، د خلکو د امنیت او د هېواد د دفاع په برخه کې له اخلاص او صداقت څخه د کار اخیستو ژمنه وکړه.

د ملي دفاع وزارت وایي: تر دې مهاله د حضرت ابوبکر صدیق (رض) له روزنیز مرکز څخه په زرګونو منسوبین فارغ شوي او د هېواد په بېلابېلو برخو کې د خدمت لپاره ګمارل شوي دي.

د داوطلبیو خبرتیا

د استخباراتو لوی ریاست لـه ټولو واجد داوطلبانو څخه غوښتنه کوي ترڅو په (پروژه مـواد و اجناس سـاختمانی مـورد ضرورت دیپو مرکزی بخش حفظ و مراقبت ریاست تعمیرات استخبارات) چې د تشخیصیه شمیره GDI/1404/W-02/NCB يي ده ګـډون وکـړئ. او د شرطپاڼي سـافټ په فلش یا سي ډي ډیسـک کې پـه وړیا توګه د استخباراتو د تدارکاتو څانګې څخه چې پته يې ده ملالـۍ واټ، ملالۍ زيژنتون ترځنګ شهر آرا کابل- افغانستان څخه ترلاسه کړئ.
له ګډونوالو څخه هیله کیږي چې د تدارکاتو قانـون او کړنلارې له مخې خپـل افرونه په ټرل شـوي بڼه په ۱٤٠٤/٠٥/٠٨ تاریخ او او د سهار په ۰۹:۳۰ بجو د استخباراتو د تدارکاتو څانګې ته وړاندې کړئ، د يادونې وړ ده چې تضمين آفـر ۵۵۰,۰۰۰ پنځه لکه پنځوس زره افغانۍ په بانکي ډول سره اخيستل کيږي، او الکټرونيکي آفرونه د منلو وړ ندي.

د بیا ځلي داوطلبۍ خبرتیا

{د ١٤٠٤ د مالي کال لپـاره د يوه قلم ډيزل تيل تهيه او تدارک کول}
شماره- MOPH/NCB/IGICH/1404/G6
{د اندراګاندي د ماشومانو درملني انستيتوت د تدارکاتو لوی مدیریت} لخوا ټولو په شرايطو وړ داوطلبانو ته بلنه ورکول کيږي تر څو د {د ١٤٠٤ د مالي کال لپاره د يوه قلم ډيزل تيل تهيه او تدارک کولو} د بيا ځلي داوطلبۍ پروسـه کـې ګډون وکـړي او د اړونده چاپ شـوي شرطپاڼي يو نقل په وړيـا ډول د اندراګاندي د ماشومانو درملني انستيتوت د تدارکاتو لوي مديريـت څخه په ميموري يا فلش ډيسـک کې ترلاسه کړي، دتدارکاتو قانون، کړنلارې او په شرطپاڼي کې د ذکر شويو شرايطو سره سـم دې خپل وړانديزونه (آفرونه) په سرتړلي ډول د خبرتيا نيټـې د خپرولو څخه بيا تر {د ١٤/٠٥/١٤٠٤ نيټې ورځ سـه شـنبه د غرمې څخه مخکې پـه ١٠ بجو د ګـران هيواد په زړه کابل ښـار کې د وزيـر محمد اکبر خان ميني لسـم سـړک د اندراګاندي د ماشومانو درملني انستيتوت لومړي پوړ د غونډو تالار ته وسپاري} ناوخته رسيدلي او انټرنيټي آفرونه د منلو وړ نه دي.
د آفر تضميـن {د بانک ګرانتـي ده چه د يو اعتبـار لرونکي بانک ٢٥٠,٠٠٠ افغانۍ مبلغ} او شرطپاڼـي سره مل د پورته پتـې مطابق د روغتون د غونډو تالار ته وسـپارئ، او د آفر پرانېسـتلو غونډه {١٤/٠٥/١٤٠٤} نيټه د سه شنبې ورځ ١٠:٠٠ بجې د غرمې څخه مخکې د اندراګاندي د ماشـومانو درملني انستيتوت لومړي پوړ د غونډو تالار} کې دايريږي.

اطلاعیه فروش موتر

اسـامی شرکت همرازلمتید یک عراده موتر پلیـت ۲-۷۵۴۳۹ ش کابل نوع تیوتا کرولا سـالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد رب فرزند عبدالرب بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کـدام معامله داشـته باشـند الی مدت سـه یوم به مدیریت ترافیـک کابل اطلاع دهند. ۴۱۹

اطلاعیه فروش موتر

اسامی شرکت نوین احمدی لمیتد یک عراده موتـر پلیـت ۳-۵۴۷۵ ش کابـل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویـش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای گل محمد فرزند غلام حضرت بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشـته باشند الی مدت سه یوم به مدیریـت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۴۳

موضوع : د داوطلبۍ لپاره د بلنې خبرتیا

د ټولګټـو وزرات پـه شرایطـو برابر ټولو دواطلبانـو ته بلنـه ورکوي چـې د { پروژه تعمیر و اعمار دیوار اسـتنادي تنگی صیاد در مسـیر شـاهراه عمومي ایبک-مزارشریف } داوطلبۍ کې شرکت وکړي او د یادې پروژې د شرطپاڼې، د احجامو بل او تخنیکي اسنادو سـافټ د دې وزارت د تدارکات ریاسـت د ودانیزو او مشـورتي خدمتونو آمریت څخه ترلاسـه او خپل آفرونه د شرطپاڼې، تدارکات قانون او کړنلارې د مندرجو شرایطو مطابق په تړلي او بند ډول د خپرېدو له نېټې څخه تر {۱۰:۰۰}مخکې له غرمې (ظهر) ۱٤٠٤/٠٥/٠٢ د ټولګټو وزارت د تدارکات ریاسـت ته چې د سرشـمېرنې ملي اداري ترڅنګ، د پخوانی داخلي وزارت سرک، ملالـۍ واټ کې واقع دی، وړاندې کـړي، د یادونې وړ ده، انټرنیټي او ناوخته رسېدونکي آفرونه د منلو وړ ندي.
د آفـر تضميـن د بانـک ګرنتـی پـه ډول (٣٦٠،٠٠٠) افغانی دی او د آفرپرانیستي غونډه په ٠٢/٠٥/١٤٠٤ نېټه په {١٠:٠٠} بجې مخکې تر غرمې د دې وزارت د تعمیر، دریم منزل، د غونډو په تالار کې دایرېږي.

موضوع : د داوطلبۍ لپاره د بلنې خبرتیا

د ټولګټـو وزرات پـه شرایطـو برابر ټولو دواطلبانو ته بلنه ورکوي چې د { پروژه تعمیر و اعمار دیوار اسـتنادي تنگی تاشقرغان در مسـیر شـاهراه عمومي ایبک-مزارشریف } داوطلبۍ کې ګډون وکـړي او د یادې پروژې د شرطپاڼې، د احجام بل او تخنیکي اسـنادو سـافټ د دې وزارت د تدارکات ریاسـت د ودانیزو او مشـورتي خدمتونو آمریت څخه ترلاسـه او خپل آفرونه د شرطپاڼې تدارکات قانون او کړنلارې د مندرجو شرایطو مطابق په تړلي او بند ډول د خپرېدو له نېټې څخه تر {۱۰:۰۰}مخکې له غرمې (ظهر) ۰٤ /١٤٠٤/٠٥ د ټولګټو وزارت د تدارکات ریاسـت ته چې د سرشـمېرنې ملي اداري ترڅنګ، د پخوانی داخلي وزارت سرک، ملالـۍ واټ کې واقع دی، وړاندې کـړي، د یادونې وړ ده، انټرنیټي او ناوخته رسېدونکي آفرونه د منلو وړ ندي.
د آفـر تضميـن د بانـک ګرنتـی پـه ډول (٤٠٠,٠٠٠) افغانی دی او د آفرپرانیستي غونډه په ١٤٠٤/٠٥/٠٤ نېټه په {١٠:٠٠} بجې مخکې تر غرمې د دې وزارت د تعمیر، دریم منزل، د غونډو په تالار کې دایرېږي.

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی

وزارت فوایـد عامه، از تمـام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی) پـروژه ترمیم و داغگیری سرک ولسـوالی بلخ الی مرکز ولسـوالی دولـت آباد به طول (۲۷+۸۲۰) کیلو متر ،ولایت بلخ. (اشـتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه و اسناد تخنیکی را از آمریـت تدارکات امور سـاختمانی این وزارت بدسـت آورده، آفرهـای خویـش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نـشر اعلان الی سـاعت (۳۰ :۹ قبل از ظهر) مؤرخ (۰۱/ ۱۴۰۴/۰۵هـ.ش) به ریاسـت تـدارکات، وزارت فواید عامـه، واقع ملالی وات، سرک وزارت داخله اسـبق، جوار اداره ملی احصائیه و معلومات ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمیـن آفر بصـورت گرنتی بانـک مبلغ (۲۰۰,۰۰۰ دو صدهزار افغانی) بوده و جلسه آفرگشائی به تاریخ (۰۱/ ۰۵ /۱۴۰۴هـ.ش) سـاعت (۳۰ :۹ قبـل از ظهـردر ریاسـت تـدارکات تعمیر وزارت فوایـد عامه تدویر میگردد.

د ترون د اعطاء د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتـو د اصولو له مخې ټولو هیوادوالو ته خبر ورکول کیږي چې د ۱.۱.۱ ستره محکمه په نظر کې لري د ۱۴۰۴هـ ش مالي کال لپاره د عمران الهام لوژسـتيکي شرکت سره چې د جواز شمیره(۸۷۲۴۲) ده او مرکزي دفتر يې د کابل ولايت مرکز په ۵ ناحيه آبرسانۍ سيمه کې موقعيت لـري،د (۳۳۸۸۴۰۰)دری ميلیونه دری سـوه آته اتيا زره او څلور سـوه افغانيو په قیمت سره د (۳۳)قلمـه تنظیفاتي موادو د تدارک قرارداد وکړي.
هر ډول حکمي او حقيقي شـخصيتونه چې پـدې اړه نيوکه لري د تدارکاتـو د اصولو له مخـې کولای شي په ليـکلي ډول د دلايلو په لرلو سره خپلې نيوکې د دې اعلان د خپريدو له نېټې څخه تر اوو(۷) تقويمي ورځو پورې د عامې روغتيا څلور لارې ته څيرمه د سترې محکمې د مالي او اداري عمومي رياست اړوند د تدارکاتو آمريت ته وړاندې کړي.
دا خبرتيا د قرارداد د تړلو په معنی نه ده د پورته ذکر شوې نيټې تر پوره کيدو او نورو قانوني مرحلو تر سرته رسولو پورې د قرارداد عقد نه ترل کيږي. ۴۵۵

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی

وزارت فوایـد عامه، از تمـام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی{ پـروژه کانکریـت ریزی سـه پایـه ترازو های(فیـروزه بهار ، شـش پـل و قرغنه تو) در ولایت بامیان } اشـتراک نموده و سـافت کاپی شرطنامه و اسناد تخنیکی را از آمریت تدارکات امور سـاختمانی این وزارت بدست آورده، آفرهـای خویـش را مطابـق شرایط مندرج شرطنامه و طبـق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسـته از تاریخ نشر اعلان الـی سـاعت (۰۰: ۰۹ قبل از ظهـر) مؤرخ (۱۴۰۴/۰۵/۰۱) به ریاسـت تدارکات، وزارت فواید عامه، واقـع ملالی وات، سرک وزارت داخله اسـبق، جـوار اداره ملـی احصائیه و معلومات ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمیـن آفـر بصـورت گرنتی بانـک مبلغ (۵۰۰،۰۰۰) پنـج صـد هـزار افغانی بوده و جلسه آفرگشـائی به تاریخ (۱۴۰۴/۰۵/۰۱) سـاعت (۰۰: ۰۹ قبـل از ظهر) در ریاسـت تـدارکات تعمیر وزارت فوایـد عامه تدویر میگردد.

افغان اعلانات

موضوع : اعلان تصمیم اعطای قرارداد پروژه تهیه و تدارک میز و چوکی مرکز ابتکار وتسهیل نو آوری های تکنالوژی معلوماتی

بدین وسـیله به تاسـی از فقره (۲) ماده چهل و سـوم قانـون تـدارکات به اطـلاع عموم رسانیده میشود , وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی پروژه تهیه و تدارک میز و چوکی مرکز ابتکار وتسهیل نو آوری های تکنالوژی معلوماتـی را به شرکت محـترم صنایع فلز کاری تیـم آریا واقـع سرک ۱۲, چهار راهی سابقه تایمنی مرکزکابل به مبلغ مجموعی نه صدو نوزده هزارو پنجصد(۹۱۹,۵۰۰) افغانی اعطـاء می نماید. اشـخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشـته باشـند , می تواند اعـتراض خویش را از تاریخ نشر این اعـلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاسـت تـدارکات واقع منزل چهاردهم تعمیر -۱۸- منزله وفق احکام ماده پنجاهم قانـون تـدارکات ارایه نمایند.
ایـن اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی , قرارداد منعقد نخواهد شد.۴۷۰

اطلاعیه پشتنی بانک

طبق ماده ۷۵ قانون بانکداری حسابات بانکی آنعده مشـتریان گرامی که در جریان ده سال متمادی هیچ گونه داد و ستد (معاملات بانکی) صورت نگرفته باشد در ردیف حسابات غیر فعال (راکد) قرار میگیرند، که لیست مکمل همچو حسابات تهیه و در ویب سایت پشتنی بانک نشر گردیده است.
بدینوسیله به اطلاع آنعده از مشتریان محترم که شـامل لیسـت های مرتبه اند احترامانه رسانیده میشـود تا بعد از نشر اعلان هذا الی مـدت ۹۰ روز به نزدیکترین نماینده گی های پشتنی بانک در مرکز و ولایات مراجعه نموده و فورم مخصوص را جهت فعال سازی مجدد حسابات شان خانه پری و طی مراحل نمایند.
در غیـر آن دارای هـای حسـابات غیر فعال مشتریان متذکره طبق احکام قانون بانکداری به بانک مرکزی انتقال و تحویل میگردد.
مشتریان گرامی میتوانند برای مشاهده لیست به ویب سـایت و یا هم صفحه رسـمی ذیل پشتنی بانک مراجعه نمایند.
WWW.PASHTANY BANK.COM.AF-۱
Facebook:pashtanybank-۲
۳۵۵

اعلان مفقودی

یک قطعه سند ملکیت زمین دارای نمبر ۷۶۴۳ واقع پروژه احمد شـاه بابا مینه در قسـمت بلاک ۱۰ کوچه ۷ ناحیه ۱۲ سند سابق به اسم اقبال گل ولد خان باز و وکیل شرعی به اسـم کمیا گل ولد خان باز مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۴۶۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد جواز سیر موتر نوع تویتا هایلکس رنگ سفید مدل ۲۰۱۱ پلیت نمبر ۹۲۴۹ دولتی مربوط ریاسـت محترم صحت عامه ولایت ننگرهار وزارت صحت عامه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم ضیاء الرحمن ستانکزی ولد رحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۶۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم احسان الله احمدزی ولد رحیم جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۶۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم قاسم دولـت زی ولد علی خان مفقـود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۷۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم فیصل الرحمن ولد جمعه گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۷۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم ستار کنجاه ولد علی یاور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۷۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم جاوید عزیزی ولد محمد گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۷۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالکریم عثمانی ولد اند مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۷۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم مهدی فدایی ولد عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم سحر فدایی ولد عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالکریم فدایی ولد عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالرحیم فدایی ولد عبدالاحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم زهرا فدایی ولد افغان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی رضا مرادی فرزند ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۰۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم فرشید رحیمی فرزنـد گلاب الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۰۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی خان نیکنام فرزند بسم الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۰۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید محمد یوسف سلیمی فرزند سید عالم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۰۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم الماس خان زهیر فرزند عبدالناصر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شفیق الله صافی فرزند محمد رسـول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۹۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قدیر الله فرزند عبید الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۱۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم محمد مهـدی رحیمی فرزنـد محمد زمـان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۱۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالاحد فرزند عطا خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم مشتاق علی احمدی فرزند غلام نبی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۱۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم ممتاز علی احمدی فرزند غلام نبی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۱۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم هدایت الله رحیمی فرزنـد عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۱۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خیر محمد صمدی فرزند عبدالخالق مفقـود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۵۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم محمد یاسین رمضانی فرزند عزیز الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۵۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم نازیه اکبری بنت درویـش مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۵۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم محمد آصف عرب زاده فرزند توکل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۶۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم غلام حسـین اخلاقـی فرزند غلام سـخی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۵۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ثمر الدین عزیزی فرزند محمد دین مفقـود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۶۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد ضیا شریفی فرزند حسین علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۶۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم فضل الرحمن حنیفی فرزند خیال بت مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۶۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم زلگلی شیرزاد فرزند شاه زاده مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۴۲۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد علم حسینی فرزند صفدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۶۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد شاه امیر خیل فرزند شـیراجان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۶۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حیدرزمان اسـحاق زوی فرزنـد محمد اسـحاق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۶۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید نادر ولد سید حیدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۴۳۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام رضا رضایی ولد حسـین علی مفقـود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۳۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خجسته رضایی بنت غلام رضا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۳۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم زهرا رضایی بنـت محمد علی مفقـود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۳۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شهربانو ملاعبدالجبار ولد محمد خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم عاطفه الهام ولد نظر محمد الهـام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۳۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حبیب الله عباسی ولد شـاه ولی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شاه خالد عینی خیل ولد حاجی دوسـت محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۵۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم آدم خان صاحب زاده ولد زیور الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۵۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مصطفی حسنی ولد محمد امیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۵۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم یسنا حسنی فرزند مصطفی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۵۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالقیوم کریمی ولد عبدالغنی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۵۰

موضوع: نشر اعلان پروژه چهار ساحه معدن کاری مقیاس کوچک!

وزارت معادن و پترولیم قرارداد چهار ساحه معدنکاری مقیاس کوچک را که مشخصات آنها ضم جدول میباشد، غرض جلب علاقه مندان به اعلان میسپارد.
علاقه مندان میتوانند اعتبار از تاریخ ۱۴۰۴/۰۴/۲۲ الی ۱۴۰۴/۰۵/۲۱ ه ش درخواسـت های شـان را به ریاسـت عمومی کادسـتر و تنظیم منرالها تسلیم نموده، اسناد لازم را بعد از تحویلی پول شرطنامه (پول غیر قابل برگشت) بدست آورند.

جدول مشخصات ساحه معدنی به مقیاس کوچک
تاریخ اعلان 1404/4/23هـ ش تاریخ ختم اعلان 1404/5/22 هـ ش

شماره	ولایت	ولسوالی	نام ساحه	نوع مواد معدنی	مساحت (Km²)	کوردینات					
						N-Latitude			E-Longitude		
						S	M	D	S	M	D
۱	بدخشان	یمگان	حضرت سعید	سرپنتین	کیلومتر 0.02221مربع	۵۱,۹۰۰	۲۳	۳۶	۲۸,۱۰۰	۴۹	۷۰
						۵۰,۳۰۰	۲۳	۳۶	۲۱,۸۰۰	۴۹	۷۰
						۵۵,۳۰۰	۲۳	۳۶	۲۱,۴۰۰	۴۹	۷۰
						۵۶,۷۰۰	۲۳	۳۶	۲۶,۲۰۰	۴۹	۷۰
۲	هرات	چشت شریف	تنگی سفید	مرمر کلسیتی	0.310419	۳۵,۵۶۰	۱۸	۳۴	۷,۰۰۰	۴۶	۶۳
						۳۷,۸۲۰	۱۸	۳۴	۲۹,۶۹۰	۴۶	۶۳
						۳۰,۲۵۰	۱۸	۳۴	۳۱,۵۹۰	۴۶	۶۳
						۱۹,۸۱۰	۱۸	۳۴	۲۵,۵۲۰	۴۶	۶۳
						۱۷,۶۱۰	۱۸	۳۴	۱۸,۶۰۰	۴۶	۶۳
						۱۷,۹۸۰	۱۸	۳۴	۸,۶۸۰	۴۶	۶۳
۳	ننگرهار	سرخ رود	شمشپور	تورمالین	0.144176	53.4	25	34	3.6	15	70
						3.3	26	34	23.6	15	70
						56.3	25	34	27.6	15	70
						46.1	25	34	7.7	15	70
۴	کاپیسا	نجراب	نبی مینه	تالک	0.266014	۴,۰۰	۵۷	۳۴	۵۶,۷۰	۳۴	۶۹
						۵,۰۰	۵۷	۳۴	۳۵,۴۳	۳۴	۶۹
						۱۱,۵۶۵	۵۷	۳۴	۲۸,۴۱	۳۴	۶۹
						۱۹,۷۰	۵۷	۳۴	۴۱,۰۰	۳۴	۶۹
						۲۲,۲۰	۵۷	۳۴	۵۲,۷۰	۳۴	۶۹

ترتیب کننده: ریاست تنظیم قرادادهای معادن کوچک
منظور کننده: ریاست عمومی کادستر و تنظیم منرالها

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
دارېکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳٤۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

سه شنبه د محرم الحرام ۱۹ مه ۱٤٤۷ق کال | د چنګاښ ۲٤ مه ۱٤۰٤ ل کال | د2025م کال د جولای ۱۵ مه

له ایران څخه راستنېدونکو کډوالو سره د ولسي مرستو لړۍ چټکه شوې

د ایراني ځواکونو له چلنده خواشیني افغانان، له اوږد سفر او د ورسره شوي سپکاوي له دردونو سره مل هېواد ته راستنېږي، خو د پولې پر سر یې هېوادوال د وروری، همدردۍ او ملي یووالي پیغام سره خدمت ته ولاړ دي. د خوراکي او غیرخوراکي توکو د مرستو ترڅنګ، هره ورځ سلګونه شخصي موټر د ولسي خلکو له خوا چمتو کېږي، ترڅو له کډوالۍ راستانه شوي خپلو اصلي سیمو ته ولېږدوي. د هرات اوسېدونکی جلیل احمد وایي: ((موږ پوهېږو چې دوی په کومو سختو شرایطو کې دي، په ګرمي هوا کې ... ۲مخ

عراقچي: حماس ۲۰۰ زره تازه‌دمي مجاهدین جذب کړي

د ایران د بهرنیو چارو وزیر سید عباس عراقچي وایي، چې د حماس جهادي غورځنګ په غزه کې ۲۰۰ زره تازه‌دمي مجاهدین د صهیونیستي رژیم د مقامت لپاره جذب کړي دي.عراقچي پر خپلې ایکس پاڼې لیکلي: ((نتنیاهو دوه کاله وړاندې د غزې د بشپړې بریا ژمنه کړې وه؛ خو نن ورځ

په جنګي جرمونو تورن دی، له پوځي بن‌بست سره مخ دی او حماس ته ۲۰۰ زره نوي ... ۲مخ

کابل ژوبڼ کې د ورځپاڼو له نصبولو د سیلانیانو هرکلی

کابل ژوبڼ کې چې هره ورځ خلور ورځپاڼې(هېواد، انیس، شریعت او کابل‌ټایمز) په ویټرین کې لوستونکو ته وړاندې کېږي؛ د ژوبڼ مسؤلین وايي چې نه یوازې د ژوبڼ کارکوونکي، بلکې سیلانیان هم ورمات شوي او ډلې ډلې یې لوستلو ته ولاړ وي. دغلته سیلانیان ښکاري چې ورځپاڼې لولي، ماشومان او نالوستي یې عکسونه ګوري او نورو ته یې ورښيي. د کابل ژوبڼ رئیس عزیزګل ثاقب وویل چې زموږ کارکوونکي هم دغه ورځپاڼې له ځان سره وړي او مطالعه کوي یې. زه وینم چې ځوانان ورځپاڼو ته ولاړ وي او له دې کاره یې زه خپله زیاته انرژي اخلم: زموږ ځوانان باید د مطالعې دود او فرهنګ په ځان کې عملي کړي او دغه کار مثبت نتایج ورکړي دي. زه یې خپله هم وینم چې ځوانان تختې ته ولاړ وي او اخبار لولي، نو زیات خوشالېږم.دغلته یو ځوان خالد خزان نومېږي ... ۲مخ

د پکتیکا - زرمت سړک د بیارغونې چارې پیل شوې

د پکتیکا له مرکز ښرنې تر زرمت ولسوالۍ پورې د نږدې ۳۹ کیلومترو په اوږدوالي د یو میلیارد افغانیو په لګښت د سړک جوړولو چارې د ځایي چارواکو له لورې پیل شوې.
د یاد ولایت د ټولګټو چارو رئیس مولوي محمد اکبر عادل باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د دغه ولایت د مرکز ښرنې بازار څخه تر زرمت ولسوالۍ پورې د یاد ریاست له پراختیایي بودجې څخه د یو میلیارد افغانیو په لګښت د ۳۸.۷۴ کیلومترو په اوږدوالي او د ۱۱ مترو ... ۲مخ

د کابل والي: سوداګر دې له راستنېدونکو کډوالو سره د مرستو ملي مسئولیت ادا کړي

د کابل والي ملا امین‌الله عبید د پلازمېنې کمپ ته له ګاونډیو هېوادونو د راستنېدونکو افغان کډوالو د وضعیت ارزونې په موخه ورغلی دی. د کابل ولایت د رسنیو دفتر وايي، چې ښاغلي عبید د کډوالو د روغتیایي، ټولنیزو، ټرانسپورټي او د خوړو د اسانتیاوو د حل په موخه ځانګړې کمېټې جوړې کړې دي. ملا امین‌الله عبید د دغو کمیټو له مسؤلینو غوښتي، چې د مېشتو کډوالو ستونزو ته ژر تر ژره رسیده‌نه وکړي.
د کابل والي همداراز له ملي سوداګرو هم غوښتنه کړې، چې له راستنېدونکو کډوالو سره د مرستو لپاره خپل مسئولیت ادا کړي او د دوی ملاتړ وکړي.

سمنګانو کې بې روزګارو ځوانانو ته د کوچنیو کاروبارونو زمینه برابره شوې

سمنګانو کې هغو ځوانانو ته چې د بې روزګارۍ له امله د هېواد پرېښودو ته اړ شوي، واړه کاروبارونه برابر شوي. مسئولین وایي: که له یوه لوري یې سلګونه ځوانان په کار کړي خو بل لورته یې بیا ښاري نظم او د ښار ودانول هم له پامه نه دي غورځولي. د سمنګانو د خلم ولسوالۍ ښاروال وایي:((وتوانېدلو چې له ۵۰۰ زیاتو ناچاره او بې وزلو ځوانانو ته کوچني کاروبارونه ایجاد کړو، ځکه هېواد کې مو لوی تحول رامنځته شو، چې ورسره ګڼ کسان بې کاره او زیانمن شوي وو. ما چې دغه کسان په کار کړل، نو وسایل شوم، په ټوله کې سرکال دغلته درې لویې او مهمې پروژې وې چې د ښاروالۍ له خوا تطبیق شوې.)) دغه په کار بوخت ځوانان د نورو بې برخلیکه ځوانانو لپاره هم د داسې کاري فرصتونو پر ایجاد ټینګار لري. یو تن په کار بوخت ځوان وایي:((خدایه شکر الحمدلله، زه د ښاروالۍ له پاملرنې خوښ یم چې د کار زمینه یې راته برابره کړه.)) یو بل په کار بوخت ځوان بیا په دې اړه وایي: ((که موږ ته د کار زمینه نه وای چمتو شوې، شاید ایران یا کوم بل هېواد ته به مو په سختو مشکلاتو سفر کاوه.)) ورته مهال د خلم ولسوالۍ یو شمېر اوسېدونکي د ښار ودانولو کې د لا زیاتو ورته پروژو د تطبیق غوښتونکي دي ... ۲مخ

نورستان کې ۱۶۵ کیلوګرامه بیروج ډبرې وپلورل شوې

د کانونو او پټرولږ وزارت په نورستان کې د قیمتي او نیمه‌قیمتي ډبرو د داوطلبۍ ترسره کېدو خبر ورکړی او ورځ پلورل شوي او د اسلامي امات ونډه پکې ۱۲ سلنه وه. د کانونو او پټرولیم وزارت دا خبر هم ورکړی،

ویلي یې دي چې دا ډبرې د ۱۲۰ میلیونو افغانیو په بدل کې پلورل شوې دي. د دغه وزارت په خبرپاڼه کې ویل شوي چې دا ۱۶۵ کیلو ګرامه بیروج وړمه چې په دې داوطلبۍ کې په لومړي ځل د نورستان یاقوت هم پلورل شوي دي. څه موده مخکې هم د یاد ولایت له کانونو را ایستل‌شوې ... ۲مخ

امریکا کې وسله‌وال برید؛ ۵ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې

د امریکایي رسنیو د راپورونو له مخې، وړمه ورځ د امریکا د کینټاکي ایالت په یوه کلیسا کې وسله‌وال برید شوی، چې دوې مېرمنې پکې وژل شوي او دوه نارینه ټپیان دي .له دې وړاندې بریدګر لومړی یو سرتېری په ډزو ټپي کړی، وروسته د پېښې له ځایه تښتېدلی او په کلیسا کې یې برید کړی. ځايي پولیسو ویلي، چې یاد بریدګر د پولیسو په ځوابي ډزو کې وژل شوی دی. د دوی په خبره ټپیان، چې د یوه حالت نازک ښودل شوی روغتون ته لېږدول شوي. سربېره پر دې د سرتېري او یوه بل ټپي روغتیایي حالت د ډاډ وړ یاد شوی دی.

په ۲۱ ولایتونو کې د اورښت اټکل شوی

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د هواپېژندنې اداري په ۲۱ ولایتونو کې د اورښت او سېلابونو د پېښېدو اټکل کړی دی. د هواپېژندنې اداري په خبرپاڼه کې ویل شوي چې نن په بدخشان، تخار، نورستان، کونړ، ننګرهار، لغمان، بغلان، کاپیسا، پنجشېر، پروان، کابل، لوګر، بامیانو، غزني، دایکندي، ارزګان، میدان‌وردګو، زابل، پکتیا، خوست او پکتیکا ولایتونو کې د اورښت او سېلابونو د پېښېدو اټکل شته.
د خبرپاڼې له مخې، د یادو ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې د باران کچه له ۱۰ تر ۳۵ ملي مترو پورې اټکل شوې ده. د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت په خبرپاڼه کې همداراز په سویل ختیځو ... ۲مخ

جرمني: د کډوالو د ستنولو لپاره باید برلین کې کونسلګري اسلامي امارت ته وسپارله شي

د جرمني د کورنیو چارو وزیر الکساندر ډوبرینټ وایي: له جرمني د مجرمو افغان کډوالو د ستنولو لپاره باید برلین کې د افغانستان کونسلګري طالبانو((اسلامي امارت)) ته وسپارله شي. الکساندر ډوبرینټ یوې جرمني رسنۍ ته ویلي: ((دا د طالبانو(اسلامي امارت)) د رسمیت پېژندلو په مانا نه ده او په خبره یې د جرمني د بهرنیو چارو وزیر سره یې هم په دې اړه هوکړه کړې ده. ده زیاته کړې: دا چې له اسلامي امارت سره کوم تړون نه لري نو نشي کولای یاد کډوال ... ۲مخ

نورستان کې ۲۲ ښوونځي بیارغول کېږي

د نورستان په بېلابېلو ولسوالیو کې د څه باندې ۴۵ میلیونو افغانیو په لګښت د ۲۲ ښوونځیو د رغونې او بیارغونې پروژې پیل شوې دي. د پوهنې وزارت وایي: د دغو پروژو له مخې په واما، وانټ وایګل، برګ‌متال، کانتوا، نورګرام، کامدېش، دوآب او منډول ولسوالیو کې ښوونځیو ته نوې ودانۍ جوړېدل، بیا رغونه، احاطوي دېوالونه او د نورو ضروري تاسیساتو رغول شامل دي. نورستان یو له هغو ولایتونو څخه دی چې د ښوونیزو اسانتیاوو له کمښت سره مخ و او د پوهنې په برخه کې د دغو پروژو پیل مهم ګام بلل کېږي.